د افغانستان اسلامي امارت

**دارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**دمساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۲/ رجب المرجب/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۲/ جدی/۱۴۰۴هـ، ش**

# هغه کارونه چې په ځمکه کې ډول ډول فسادونه را منځته کوي او د ټولنې د پرمختګ مانع ګرځي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي هدانا للإسلام، وجعلنا من أهله وما كنا لنهتدي لو لا أن هدانا الله، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله أرسله الله بالهدى ودين الحق،وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: { وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَام * وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ الْفَسَادَ } [البقرة:۲۰۴-۲۰۵]

**درنو او محترمو حاضرینو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

ګناهونه او جرمونه په دوه ډوله دي ، یو ډول هغه ګناهونه دي چې یواځې د فرد دتباهۍ سبب ګرځي او اثر یې منحصر په فرد پورې وي. او بل ډول هغه ګناهونه او جرمونه دي چې هغه د فرد او ټولنې دواړو دتباهۍ سبب ګرځي او په ټولنه کې ډول ډول فسادونه رامنځته کوي او د ټولنې د پرمختګ مانع ګرځي.

هغه کارونه او ګناهونه چې په ټولنه کې ډول ډول فسادونه زیږوي، فرد او ټولنې دواړو ته زیان رسوي،ډیر دي چې ځینې بیلګې یې په لاندې ډول دي:

**۱-کفر او نفاق کول:** کفر او نفاق هغه ګناه ده چې فرد هم تباه کوي او په ټولنه کې د مختلف قسمو فسادونو سبب ګرځي.

کفر او نفاق د ټولو ګناهونو او فسادونو سرچینه ده. هغه څوک چې په الله تعالی ایمان نلري هغه ته حلال او حرام، جائز او ناجائز ، نیک او بد ټول یو شان وي. کافر او منافق ته په ځمکه کې فساد کول ، شراب څښل، انسان وژل، غلا کول او د پردي مال خوړل کوم توپیر نلري.د همدې وجې نه الله تعالی کفار او منافقان فســادیان معرفي کړي دي. الله جل جلاله فرمایي:(الَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ).البقرة:(۲۷)

ترجمه: هغه کسان چې ماتوي دوی عهد د الله وروسته د محکموالي د هغه عهد او پرې کوي هغه چې حکم کړی دی الله په هغه سره چې پیوند دې کړی شي او فساد کوي دوی په ځمکه کې او دغه کسان هم دوی دي زیان کاران په دنیا او عقبی کې.

**د استدلال وجه:** الله تعالی په پورتني مبارک آیت کې کفر او نفاق ته فساد ویلی دی، ځکه چې کفر او نفاق د ټولو فسادونو منشأ ده. همداراز الله تعالی فرمایي چې کفار او منافقان په ځمکه کې فسادیان دي؛ ځکه دوی نور خلک کفر ته رابولي او خلکو ته د کفر ترغیب ورکوي او خلک د ایمان څخه راګرځوي او په مؤمنانو پورې استهزاء کوي او صله رحمي قطع کوي، هغه صله رحمي چې د ټولنې نظام او اصلاح ور پورې تړلې ده.

په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمایي:(وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا). الاعراف:(۸۵)

ترجمه: او فساد خرابي مه کوئ تاسې په ځمکه کې په کفر او خیانت سره پس له اصلاح د دې دغه اصلاح او امانتداري خیر ډېر بهتر دی تاسې ته که یئ تاسې ایمان راوړونکي .

الله تعالی فرمایي چې تاسې په ځمکه کې کفر مه کوئ وروسته د اصلاح دځمکې څخه یعنې تاسې کفر مه کوئ په ځمکه کې وروسته د شریعت د قائمیدلو څخه او ظلم مه کوئ وروسته د عدل د قائمیدلو څخه.

په دې مبارک آیت کې د فساد لفظ هر ډول ګناه ته شامل دی، که هغه لوی وي او که وړوکی، کفر او نفاق تر ټولو لوی فساد دی او په ځمکه کې دفساد لاملونه دي.

د همدې امله نبي علیه السلام ابو درداء رضي الله عنه ته داسې وفرمایل:( لَا تُشْرِكْ بِاَللَّهِ شَيْئًا وَإِنْ قُطِّعْت وَحُرِّقْت) سنن ابن ماجه (۲/ ۱۳۳۹)، الأدب المفرد للبخاري (ص: ٤)

ژباړه: د الله تعالی سره شریک مه نیسه ؛ ولو که ته ټوټې شې او یا وسوزل شئ.

همدارنګه نفاق او منافقت په ځمکه کې فسادونه زیږوي. په ځمکه کې نفاق او منافقت کول په ځمکه کې ډول ډول فسادونه رامنځته کوي او د اسلامي ټولنې د پرمختګ مخه نیسي.

نفاق او منافقت هغه ناوړه کار دی چې په ځمکه کې فسادونه او ناوړه عملونه رامنځ ته کوي لکه درواغ ویل، فریب او دوکه کول، په ناروا قسمونه خوړل، د مسلمانانو د شکست خبرونه خپرول، د مسلمانان په جنګ جګړو اخته کول، په ټولنه کې جنګونو او ناامنۍ ته لمن وهل، وعده خلافي کول، منافقین په ځمکه کې فتنې خپروي او داسې نور ډېر فسادونه کوي، د همدې امله الله تعالی منافقینو ته وویل چې تاسې فساد مه کوئ.

**۲- ګناهونه او جرمونه کول:**

ګناهونه کول په ځمکه کې فسادونه رامنځ ته کوي او د ټولنې د پرمختګ مخه نیسي.

الله جل جلاله فرمایي:(وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا). الاعراف:(۸۵)

ترجمه: او فساد خرابي مه کوئ تاسې په ځمکه کې په کفر او خیانت سره پس له اصلاح د دې دغه اصلاح او امانتداري خیر ډېر بهتر دی تاسې ته که یئ تاسې ایمان راوړونکي .

**وجه د استدلال:** یعنې تاسې په ځمکه د ګناهونو په کولو سره په ځمکه کې فساد مه کوئ؛ ځکه چې ګناهونه په ځمکه کې د فساد لامل دی او هر کله چې په ځمکه کې د ګناهونو کول زیات شي ؛ نو الله تعالی په خلکو باندې قحط او وچکالي راولي.

امام سـمرقندي رحمه الله ددي آیت په تفسیر کې لیکلي دي: (یعني لا تعملوا في الأرض بالمعاصي بعد ما بین الله تعالی طریق الحق). بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (١/ ٥٤٦)

یعنې په ځمکه کې ګناهونه مه کوئ پس له هغې نه چې الله تعالی بیان کړه لاره دحق.

همـدا راز الله تعالی فرمایلي دي چې جنت د هغو خلکو ځای دی چې په ځمکه کې ګناهونه نه کوي لکه چې الله تعالی فرمایلی دي:(تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ).القصص:( ٨٣)

ترجمه: دغه کور د آخرت چې جنت دی ور کوو مونږ دا لپاره د هغو کسانو چې نه لري اراده د لويي او تکبر په ځمکه کې او نه فساد ظلم کوي پر خلقو او عاقبت ښه خاتمه لپاره د پرهېزګارانو ده

**وجه د استدلال:** الله تعالی فرمایلي دي چې دغه جنت مونږ هغه چاته ورکوو چې په ځمکه د تکبر او فساد اراده نلري . مفسرين وایې چې د د فساد څخه مراد ګناهونه دي . یعني مونږ جنتونه هغه چاته ورکوو چې د ګناه کول هیڅ اراده ونلري.

امام طبري رحمه الله لیکلي دي:( يقول: ولا ظلم الناس بغير حقّ، ولا عمل بمعاصي الله فيها). تفسير الطبري (١٩/ ٦٣٧)

ژباړه: الله تعالی فرمايي چې ظلم يې نه وي کړی په خلکو او په ځمکه کې يې ګناهونه نه وي کړي.

د ګناهونو له امله په ځمکه کې ډول ډول فسادونه رامنځ ته کیږي لکه په اوبو کې فساد، په هوا کې فساد، په فصل او زراعت کې فساد. الله جل جلاله فرمایلي دي:( ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ) الروم:(٤١)

ترجمه:ظاهر شو (آثار د) فساد په بر او بحر په وچه او لونده کې په سبب د هغې ګناه او شرک چې کړي دي لاسونو د خلقو لپاره د دې چې وڅکوي الله دوی ته څه سزا د هغو عملونو چې کړي دي دوی لپاره د دې چې واوړي دوی له دغو بدیو نه.

**وجه د استدلال:** په ځمکه کې د فساد څخه مراد شرونه او دردونه دي، چې الله تعالی یې په ځمکه د بندګانو د ګناهونو په وجه په ټولنې نازلوي ، لکه ځینو سلفو علماوو فرمایلي دي:( كلما أحدَثْتُم ذنبا أحدَث الله لكم من سلطانه عقوبة)

ژباړه: هرکله چې تاسې یوه ګناه وکړی، نو را پیداکړي الله تعالی په تاسو کې عذاب.

په دې مبارک آیت کې دفساد څخه مراد ګناهونه دي.لکه چې الله جل جلاله فرمايي:(لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا)الروم:( ٤١)

امام ابو العالیه رحمه الله فرمایي: چاچې ګناه وکړه په ځمکه کې ، نو په حقیقت کې ده ځمکه کې فساد وکړ، ځکه چې د ځمکې او اسمان صلاح په طاعت سره دی. تفسير ابن كثير / دار الفكر (٣/ ٥٢٧)

همداراز په ځمکه کې ګناهونه کول په ځمکه کې د وچکالی او زلزلو سبب ګرځي او د ځمکې څخه برکت پورته کیږي.

د گناهونو په وجه د انسان په زړه کې نا ارامي رامنځ ته کیږي او د گناهونو په وجه په زړه کې تنگي رامنځ ته کیږي او په گناهگار او مجرم باندې حیوانات او ځاروي هم لعنت وایې لکه چې امام مجاهد رحمه الله وایي :( إن البهائمَ تلعنُ عصـــاةَ بنی آدم إذا أشتدت السنةُ وأمسكَ المطر، وتقول: هذا بشؤم معصية ابن ادم).

بیشکه حیوانات لعنت وایې په گناهگارانو باندې کله چې وچکالي زیاته شي او باران بند شي او حیوانات وایې دا وچکالي د بني ادمانو په وجه ده. او د گناهونو په وجه بنده د الله تعالی په وړاندې سپک وي.

همـدارنگه په ځمکه کې گناهونه کول په ځمکه کې د نا امنۍ او گډوډۍ ســبب گرځي. امنیت د الله تعالی هغه نعمت دی چې هرڅوک یې په هر وخت کې اړتیا محسوسوي ، خو کله چې په ځمکه کې گناهونه کول زیات شي د ټولنې امنیت له منځه ځي او بې نظمي رامنځ ته کیږي.

د امنیت خرابول او خلک د سلاح په ذریعه ویرول، د فاسدو اقوالو په ټولنه کې خپرول ، د خپلو امیرانو او علماوو سپکاوی کول دټولنې د پرمختگ مخه نیسي او ټولنه بیا کمزورې کیږي او له نړۍ څخه وروسته پاتې کیږي.

**۳- د خپل ولي الأمر ، حاکم او امیر د حکم او امر څخه سرکشي او نا فرماني :** د خپل ولي الأمر ، حاکم او شرعي امیر څخه نا فرماني کول هغه ناوړه کار دی چې په ځمکه کې د هرج او مرج او د ټولنې د گډوډۍ سبب گرځي.

د خپل امیر څخه نافرماني په ځمکه کې د بې ثباتۍ او د ټولنې د پرمختگ مخه نیسي او په ټولنه کې بې نظمي زیاتیږي. د همدې وجې نه الله تعالی مونږ ته امر کړی دی چې د خپل ولي الامر ، پاچا او امیر اطاعت وکړئ او فرمایلي یې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ).النساء: (۵۹)

ترجمه: ای هغو کسـانو چې ایمان یې راوړی دی ای مؤمنانو حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول د الله او حکم ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسې مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو! .

د ولي الأمر د فرمانونو، هدایاتو او لاربنوونو منل او د هغه اطاعت کول د اسلام د مهمو اصولو څخه دي.

د مسلمانانو د امیر حکم او فرمان ته غاړه ایښودل ټولنه له گډوډیو او اختلاف څخه ساتي او که چیرې د خپل امام، امیر او حاکم نافرماني وشي ،په ټولنه کې به ډول ډول فسادونه رامنځته شي. په ټولنه کې به امنیت نه وي، زورور به د کمزورو مال چور کوي ، په ټولنه کې به عدالت ختم شي، خلک به هر ډول جرم ته لاسونه اوږده کړي.د همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د ولي الأمر په طاعت او پیروی هم امر کړی دی . په یو حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنْ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ». البخاري ت (۱۸ /۵۲)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: واورئ خبره او حکم (د امیر) او اطاعت وکړئ (د امیر) ولو که په تاسو وټاکل شـو یو غلام حبشي چې وي سر د هغه د ممیز ددانې په اندازه.یعنې ولو که ستاسو امیر حبشي غلام وي او بد منظر او بد مظهر وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ» صحیح البخاري ت (١٨ /٥٤)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل: اوریدل (حکم او امر د سلطان او امیر خپل) او منل (حکم او فرمان د سلطان او امیر خپل) واجب دي په مسلمان شخص باندې (برابره خبره ده) چې خوښ وي (حکم او امر د حاکم او سلطان ) د هغه مسلمان او که خوښ نه وي (امر او فرمان د امیر او حاکم خپل)، تر هغې پورې چې په معصیت او گناه باندې یې امر نه وي کړی او کله چې امیر او سلطان په معصیت باندې امر وکړي، نو بیا نشته اوریدل ( حکم او فرمان د سلطان) او نشته اطاعت (د حاکم او ولي الامر).

د سلطان او ولي الامر اطاعت او پیروي نه کول د مختلفو فسادونو لامل گرځي،چې بیا ټولنه پرمختتگ نشي کولای؛ځکه چې دعادل سلطان شتون ملت اوامت لره رحمت دی اود ولي الامر او سلطان د اوامرو اطاعت نه کول بغاوت او داخلي جنگونو ته لاره هواروي او ټولیز ژوند د گواښ سره مخ کوي.

د ټولنې هوسایې او سعادت د سلطان په اطاعت پورې تړلی دی او د ولي الامر سره مرسته او همکاري د ټولنې د پیاوړتیا ، دآبادۍ او ښیرازۍ فعالیتونو ته لاره هواروي.

دا چې د سلطان او ولي الامر اطاعت او پیروي د ټولنیز ژوند د پرمختتگ لپاره ډیر اړین دی ؛ نو هغه کسان چې د امام او سلطان سره بیعت ونلري، د هغه مرگ دجاهلیت د مرگ په څیر دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِىَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لاَ حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِى عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً ». صحیح مسلم(٦ /٢٢)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: چاچې وویستلو لاس خپل د طاعت (دامام او ولي الامر دطاعت څخه) مخامخ به شي د الله تعالی سره د قیامت په ورځ چې هیڅ دلیل به ورسره نه وي او څوک چې مړ شو او نه وو په غاړه د هغه کې بیعت (د امام)، مړ به شي په شان دمرگ د جاهلیت .

امام ابن رجب رحمه الله وایې: (وأما السمع والطاعة لولاة أمور المسلمين ففيها سعادة الدنيا وبها تنتظم مصالح العباد في معاشهم وبها يستعينون على إظهار دينهم وطاعة ربهم)، جامع العلوم والحكم (ص: ٢٦٢)

ژباړه: د اولوا الامر (د حکم او فرمان) په اوریدلو کې او د هغه په اطاعت کولو کې ددنیا سعادت پروت دی او دسلطان او ولي الامر د حکم په منلو کې را ټولیږي د بندگانو مصالح په دینوي چارو کې او د سلطان په طاعت سره مرسته ترلاسه کیږي د دین په ظاهرولو کې او پر ځای کول کیږي د امیر په اطاعت سره دالله تعالی د بندگي.

داچې د ولي الامر د حکم څخه سرکشي ډیره مهمه او ضروري موضوع ده ، علماء کرامو د عقایدو په کتابونو کې ذکر کړی ده.

**۴-اختلاف کول، نزاع او بې اتفاقي کول**. بې اتفاقي او په خلکو کې اختلاف رامنځ ته کول حرام او ناوړه کار دی ، چې له امله يې ټولنه تخريبږي او وحدت او يووالی له منځه ځي، بې اتفاقي او نزاع او اختلاف له امله په ټولنه کې قسما قسم فسادونه را پيدا کيږي ، دهمدې امله الله تعالی مونږ ته په وحدت او يووالي امر کړی دی او له تفرقې څخه يې منع کړي يو. وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا).آل عمران(۱۰۳)

ترجمه:او منګولې ولګوئ ای مؤمنانو په رسۍ د الله چې قرآن دی ټول او مه سره مختلف کيږئ وروسته له اسلامه .

الله تعالی مونږ ته په يووالي امر کړی دی او له تفرقې يې منع کړي يو ځکه چې په بې اتفاقی څخه په ځمکه کې ډول ډول فسادونه پيدا کيږي او په کومه ټولنه کې چې وحدت او يووالی نه وي ، په هغه ټولنه کې قوت ، همکاري ، مرسته او د الله نصرت نه وي.

بې اتفاقی او اختلاف په ټولنه کې د وحدت او يووالي ځای نيسي او ټولنه د ناکامی او شکست سره مخ کوي او د ټولنې دبدبه او هيبت له منځه ځي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ).الأنفال: (٤٦)

ترجمه: او حکم ومنئ تاسې د الله او د رسول د دغه الله او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو په کار د جهاد کې پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد د نصرت او قوت او د دولت ستاسې او صبر کوئ په قتال او سختيو بېشکه الله له صابرانو سره دی په جنګ کې په نصرت او حفاظت .

نزاع او اختلاف دوه ډوله نقصانات لري، يو داچې تاسې به ناکامه شی او بله داچې دولت به له منځه لاړشي او قوت به مو زائل شي.

د اتفاقی او تفرقې په صورت کې ټولنه پرمختګ نشي کولای، ځکه چې ټولنه هغه وخت پرمختګ کوي چې د ټولنې د افرادو ترمنځ وحدت او يووالی موجود وي. بې اتفاقي او اختلاف په ټولنه کې بې باوري رامنځ ته کوي، د ټولنې قوت ختموي، په ټولنه کې جنګونه او جګړې را پيدا کيږي.

**۵- حرابه او لارې شکول** : حرابه او قطع الطريق هغه جرم دی ، چې له امله يې په ټولنه کې ډول ډول فسادونه رامنځ ته کيږي او د ټولنې د پرمختګ مخنيوی کوي.

حرابه او د لارو شکول هغه جرم دی، چې ټولنه له تهديد سره مخ کوي او په ټولنه کې ويره او خوف اچول کيږي او د ټولنې څخه امنيت سلبيږي او د خلکو ځانونه او مالونه له خطر او چور سره مخ کيږي او په ټولنه کې ويره او خوف زياتيږي . په حرابه کې عموماً درې ډوله کارونه ترسره کيږي: په لاره کې خوف اوويره رامنځ ته کول، د خلکو څخه مالونو په زور او تهديد سره اخيستل او د انسان وژل.

حرابه او قطع الطريق هغه ناوړه کار دی، چې په حرابه کې په ناحقه انسانان وژل کيږي او په ناحقه د مسلمانانو مالونه چور کيږي او په لارو کې بد امني رامنځ ته کيږي، د همدې وجې نه حرابه کبيره ګناه ده چې الله تعالی ورلره حد مقرر کړی دی.

داچې د حرابې زيانونه زيات دي ، نو الله تعالى ورلره سخت سزا ټاکلې ده او فرمايلي يې دي:(إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَاداً أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ). المائدة: (٣٣)

ترجمه: بېشکه همدا خبره ده چې جزا د هغو کسانو چې جنګ کوي دوی له دوستانو د الله او د رسول د ده سره او سعي کوي منډې وهي دوی په ځمکه په ملک کې لپاره د فساد او بد امنی غورځولو چې دوی ووژلی شي يا دې په دار کړ شي يا دې پرې کړی شي لاسونه د دوی او پښې د دوی سره مخالفې يعنې ښې لاس او کينه پښه يا عکس د دې يا دې و شړلی شي له ځمکې په حبس سره يا له هغه ځايه بل لري ځای ته دا مذکوره جزا دغو غلو ته رسوايي ده په دنيا کې او شته دغو غلو ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی.

**٦-د منکراتو خپرول او منکراتو ته خلک دعوتول:** په ټولنه کې د منکراتو او فحشاوو نشرول او خلک منکراتو ته را بلل، هغه ګناه ده چې له امله يې په ټولنه کې نور مفاسد رامنځ ته کيږي او ټولنه د پرمختګ څخه منع کيږي. ځکه هرکله چې منکرات په ټولنه کې زيات شي او په ښکاره ډول فشحاوو ته د خلکو رابلل عادي کار وګڼل شي، نو په داسې ټولنه د الله جل جلاله عذاب راځي او ټولنه د زوال سره مخ کوي. د همدې امله الله تعالى فرمايلي دي:(فَلَوْلاَ كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الأَرْضِ إِلاَّ قَلِيلاً مِّمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ).هود:(١١٦)

ترجمه: نو ولې نه وو يعنې نه وو له اهله د هغو زمانو چې وو پخوا له تاسې نه خاوندان د فکر او عقل چې منع کول يې خلق فساد نه پـه ځمکه کې چې عذاب پرې نه وو راغلی مګر چې منع وکړه لږ له هغو خلقو نه چې خلاص کړل مونږ دوی له عذابه د هغو پخوانيو څخه ځکه چې نهي عن المنکر به يې کول.

يعنې ولې په تيرو قرنونو کې داسې عقل ، عزم او ددين خلک نه ؤ، چې په ځمکه کې يې خلک له منکراتو منع کړی وی.بيا مونږ دغه خلک چې منکرات يې کول هلاک کړل، مګر کمو کسانو ته مو نجات ورکړ او دا کم هغه کسان و چې د منکراتو مخنيوی يې کولو. په پورتني مبارک آيت کې د هغو کسانو قبحه او مذمت بيان شوی دی چې خلک يې له منکراتو څخه نه منع کول او د هغو کسانو صفت بيان شوی دی چې خلک يې له منکراتو څخه منع کول.

د يو حديث په يوه برخه کې راځي: قَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنِّى سَـمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صـلى الله عليه وسـلم- يَقُولُ « مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِى ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لاَ يُغَيِّرُوا إِلاَّ يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ ». سنن أبى داود-ن (٤ /٢١٤)

ژباړه: حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل، چې ما د رسول الله صـلى الله عليه وسـلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: داسې قوم نشته چې په هغوی کې خلک د ګناه کارونه کوي او دوی په دې قادر وي چې له ګناهونو څخه يې منع کړي ، خو بيا هم هغوی له ګناهونو نه منع کوي، زر دی چې هغوی ټول به په عذاب کې راګير کړي.

**٧-په ځمکه کې جنګونه او جګړې او فتنې را پارول:** پـه ځمکه کې جنګونو ته لمن وهل او فتنې را پورته کول په ټولنه کې ډول ډول فسادونه رامنځ ته کوي او د ټولنې د پرمختګ مخه نيسي.

د قرآني آيتونو څخه معلوميږي، چې جنګ او جګړو ته لمن وهل او فتنې را پورته کول د يهودو کار دی. الله تعالی فرمايلي دي:( كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ). المائدة:(٦٤)

ترجمه: هر کله چې بلاوه دوی اور لپاره د جنګ د رسول الله سره نو مړ کولو به هغه اور الله او سعيه کوي ځغلي دوی په ځمکه کې لپاره د فساد اچولو او الله نه خوښوي فساد کوونکي نو په سزا يې رسوي.

يعنې دا يهود دي، چې کوښښ کوي چې په ځمکه کې فتنې راولاړې کړي او خلک په خپلو منځونو کې وجنګوي، جنګونه کول او د خلکو په منځ کې جګړې را پورته کول د ځمکې په سر د نورو فسـادونو لامل ګرځي، امنيتي اسـتقرار له منځه تلل، په خلکو د بغض او کينې او نفرتونو را پيدا کيدل، د خلکو په منځ کې بدبيني او تربګني پيدا کيدل، اختلاف او مخالفتونه،يو بل وژل او زخمي کول ټول د هغو فسادونو شکلونه دي چې په ځمکه کې د جنګ او جګړو په نتيجه کې رامنځ ته کيږي.

**۸-ظلم کول او دخلکو پر حقوقو تيری او تجاوز:** ظلم او د خلکو پر حقوقو تيری او تجاوز کول هغه کار دی چې په ټولنه کې ډول ډول فسادونه زيږوي او د ټولنې د پرمختګ منخنيوی کوي.

ظلم کول او د خلکو پر حقوقو تجـاوز کول خورا ناروا او حرام کار دی او ظلم دی او کومه ټولنه چې پر ظلم ولاړه وي او د خلکو حقوق پکې ضائع کيږي هغه ټولنه هيڅکله پرمختګ نشي کولای، ځکه چې د خلکو پر حقوقو تيری او ظلم کول، په مظلوم کې د انتقام روحيه پيدا کوي او په کومه ټولنه کې ظلم وي ، په هغه ټولنه کې به اختلافات وي، په هغه ټولنه کې به د خلکو په منځ کې بدبيني وي، په هغه ټولنه کې به د انتقام روحيه ژوندی وي.

الله جل جلاله فرمايلي دي: (الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ * فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ).الفجر:( ١١-١٢)

ترجمه: هسې سړي وو دوی ګرد چې سرکشي يې کړې وه په ښارونو کې بيا يې ډېر کړی وو په هغو ښارونو کې فساد ورانی.

**د استدلال وجه:** د (طغوا) معنا ده تجاوز ، تيری او ظلم يې کړی دی په ښارونو کې. اود (فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ)نو زيات کړ دوی په ځمکه کې فساد لره. يعنې دوی په ځمکه کې سرکشي او ظلم وکړ او خلکو ته ضرر ورسولو او د خلکو مالونه يې وخوړل او هغه يې ضائع کړل، او داځکه چې سرکشي انسان ته ددې جرأت ورکوي چې د خلکو په مالونو تيری وکړي او کله چې په کومه ټولنه کې ظلم حاکم شي او د خلکو عادت وګرځي؛ نو بيا په هغه ټولنه کې به هر سړی په هغه چا ظلم او تيری کوي چې د هغه څخه کمزوری وي.او له بل پلوه ظلم په ټولنه کې بې قراري، کينه او بغض او عداوت موجود وي.

د همدې وجی نه په حديث شريف کې راځي چې ظلم کول د آخرت په ورځ کې تورې تيارې وي.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ ». صحيح مسلم (٨ /١٨)

ژباړه: د جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ځانونه وساتئ له ظلم څخه ، بيشکه ظلم به د قيامت په ورځ تورې تيارې وي.(يعنې ظالم به تورو تيارو کې پروت وي)

او ځانونه وساتئ له بخل څخه بيشکه بخل هلاک کړي دي هغه خلک چې ستاسو څخه مخکې ؤ، بخل هغوی دېته وهڅول چې يو دبل وينه توی کړي او حلال وګڼل هغوی د ځان لپاره محارم خپل. او ياداچې حلال وګڼل هغوی ځانونو ته دنورو خلکو حرام مالونه. مرقاة المفاتيح (٦/ ١٧٠)

**۹-د کفارو مسلط کیدل پر مسلمانانو باندې :** د کفارو مسلط کیدل پر مسلمانانو باندې هغه جرم دی ، چې په ټولنه کې مختلف قسم فسادونه رامنځته کوي او ټولنه د پرمختګ څخه منع کوي. ځکه چې کله کفار پر مسلمانانو مسلط شي بیا به په ځمکه کې زیات فسادونه رامنځ ته شي، لکه د مسلمانانو شهیدانول، کورونه ورانول، د خلکو زخمي کول، دمسلمانانو پر عزت تیری او تجاوز کول، د خلکو مالونه او دمسلمانانو زیرمې غصب کول، د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي اچول، یو مسلمان دبل مسلمان سره جنګول او داسې نور. الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ).الأنفال:(۷۳)

ترجمه: او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او جهاد یې کړی دی په لاره د الله کې او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی مهاجرینو ته او مدد ګاري یې کړې ده له رسول الله او مهاجرینو سره دغه موصوف په دغه صفاتو سره هم دوی دي مؤمنان په حقه رښتیا سره دوی لره دی مغفرت بخښنه او رزق روزي نېکه د عزت چې جنت دی.

**د استدلال وجه:** که چیرې تاسې هغه کار ونه کړچې تاسې ته یي امر شوی دی چې هغه د مسلمانانو سره ملتیا ده او د مسلمانانو نصرت او مرسته کول دي ؛ نو په ځمکه کې به فتنه را پیداشي او کفار به پرتاسې مسلط شي او لوی فساد به په ټولنه کې رامنځته شي، چې هغه کفار به د مسلمانانو عزتونه، او دمسلمانانو مالونه ځان ته حلال وګڼي او په هغې به تیری کول خپل مسلَّم حق وګرځوي.

**۱۰-د انجونو او هلکانو په نکاح کې تأخیر کول:** کله چې جینی بالغه شي، نو د ځینو خلکو دا عادت دی چې د خپلې لور لپاره سرمایه داره کورنۍ ګوري . ددې وجې نه جینی د بلوغ څخه وروسته په کلونو کلونو د پلار په کور ناسته وي ترڅو سرمایه داره کورنۍ ورته پیداشي او په زوم باندې دا کیږدي چې د واده ډوډۍ به په هوټل کې ورکوي . همداراز کله چې هلکان زلمیان شي ، بې موجبه ورته ښځه نه کوي او ځینې وخت ددې انتظار باسي ترڅو پیسې پیدا کړي ترڅو د واده درانه لګښتونه تحمل کړي، چې په دې کارونو سره ډیری هلکان او انجونې په کلونو کلونو ناست وي، چې ددې امله په ټولنه کې بې عفتي پیدا کیږي او ځینې وخت هلک یا انجلۍ د کور څخه د تیښتې واقعات پیښ شي او د کورنیو ترمنځ اختلافات او فسادونه رامنځ ته کیږي.

د همدې وجې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:( إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ، فَأَنْكِحُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ) او په بل روایت کې د(کبیر) په ځای (عریض) راغلی دی.

ژباړه: کله چې راشي تاسې ته داسې څوک چې تاسې د هغه ددینداری او اخلاقو څخه راضي یاست ، نو هغه ته خپله (خور یا لور) په نکاح ورکړئ، که چیرې داسې کار مو ونکړ ؛ نو شي به نه ورکول سبب د فتنې په ځمکه کې او فساد لوی. یا شي به دا کار فساد پراخه په ځمکه کې.

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ.**